دافغانستان د بیا ودانولو اداره

«رفاه»

# تاریخي پس منظر

Ketabton.com

لیکنه او اشراف : دوکتور فاروق اعظم

کال : ۱۳۶۹ هـ ش

دافغانستان د بيا ودانولو اداره
«رفاه»

# تاريخي پس منظر

ليکنه او اشراف : دوکتور فاروق اعظم

کال : ۱۳۶۹ ، هـ ، ش

Ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحیم ط

# سریزه

د افغانستان د مجاهدینو اسلامي اتحاد د انجنیر احمد شاه په مشرې د افغانستان انتقالی اسلامي حکومت جوړ کړ او زه ئي په هغه کی د مهاجرینو د بیا ځای پر ځای کولو او د افغانستان د بیا ودانولو د وزیر په توګه تعین او مقرر کړم که څه هم دا حکومت -۷- اوو مشرانو په اتفاق جوړ کړی وو او وزیران هم هر مشر په خپله خوښه حکومت ته معرفی کړی وه خو د ځانګړو علتونو په وجه د حکومت د جوړیدو له لمړی ورځی څخه د مشرانو تر مینځ د حکومت په سر مخالفت رامینځ ته شو یو شمیر ئي حکومت غوښته او بل شمیر ئي رداوه پدغه نامساعدو شرایطو کی تو لی وزارتخانی او حکومت منحیث کل فلج او د کاره ولوید . ما خپل وزارت د فوق العاده نا مساعدو

Ketabton.com

شرایطو با وجود فعال ساتلي وو . څرنګه چی ز ما دکار طبعیت غیر سیاسی غیر نظامي او صرف بشري وو نو ما هم له یوی خوا خپل کار د سیاست څخه لیری سا تلی وو دا څکه چی ما غوښتل تو ل جهادي تنظیمونه پر ته له کوم سیا سی ملحو ظ ز ما سره همکاری وکړی ا و له بلی خوا د ملګر و ملتو ا و نورو خا رجی مؤسسو چی زمونږ حکومت ئي په رسمیت، نه و پیژندلی زمونږ سره ددوستی لار خلاصه کړ ی څو په د ی تر تیب تو لی خارجی بشری مرستی د یوی واحدی افغانی جهادی اداري له لاري بیله کوم تبعیضه تر یو معین پروګرام لاندې ا فغا نستا ن ته ولیږدول شی نو څکه می د وزارت د رسمي چو کا ټ څخه بهر یو ه اداره د افغانستان د بیا ودانولو اداره ( رفاه . R.A.F.A) په نامه تأسیس کړه ا و په فعا لیت ئي پیل وکړ

( د شو را د فیصلي دتصویب تاریخ )

افغانستان په دولس کاله اوږد او شدید جنګ کی درانه تلفات لیدلي دی په دی موده کی پردی هیواد باندی د باران په شان بمونه اوریدلی دی او د ځمکی زړه یی هم له چاودید - ونکو موادو څخه ډک شوی دی . له شلو څخه تر دیرش میلیونو پوری مختلف ډولو ماینونو زموږ دا ښکلی او آرام وطن د ویری او نا آرامی په تاتو بی بدل کړی دی لکه چی یو روسی جنرا ل ویلی دی چی موږ به له افغانستان څخه ووزو او افغانان به زموږ له جنګ څخه خلاص شی خو موږ د دوی

ځمکه و دوی ته داسې عیاره کړې ده چې د دوی خپله ځمکه په د دوی سره لېږ تر لېږه لس کاله نوره هم جنګیږي .

ښارونه ، کلي او کورونه ټول وران شوي دي د اوبو لګولو سیستمونه سخت تخریب شوي ، کرنه او مالداري فلج شوي او اقتصادي ماشین منحیث کل ځای پر ځای دریدلی دی د داسې هیواد بیا ودانول کوم چې د روس غوندي یو بې رحم او وحشي طاقت لس کاله په خپل ټول توان او قوت سره تخریب کړی دی آسان کار نه دی .

د افغانستان د بیاودانولو کار نه د یو خاص وزارت کار دی ، نه د یوې خاصې اداري او نه د کومې ځانګړې مؤسسې . بلکې دا د افغانستان د ټول ملت ګډ او متحد کارته ضرورت لري او د نړیوالو کافي مرسته ایجابوي .

په همدې مقصد ما خپل هیواد او هیواد والو ته د خپل توان په اندازه د خدمت کولو له پاره دافغانستان د بیا ودانولو ( رفاه ) اداره جوړه کړه زما دا هڅه او کوښښ وو چې دا اداره به د نظامي جهاد تر څنګ د افغانستان د مجاهد ولس بشري ستونزې حل کړي او په دې ډول به د جهاد متمم او مکمل اوسي . ګویا په حقیقت کې د رفاه اداري د جهاد بشري اړخ ته کار کاوه او هغه یې تقویه کول . دغه سبب و چې د رفاه ټول دفترونه او پروګرامونه په هره سیمه کې د جهاد د قوماندانانو

سره په مشوره جوړیدل او د وطن تر آبادۍ د مخه په لومړۍ مرحله کي مرسته هم د جهاد شهیدانو معیوبینو د بندیانو کورنیو او د جوماتونو امامانو ته ورکول کیده تر څو په دې ډول سره جهاد دشاله خوا څخه نور هم تقویه شي او مجاهدین په ډاډه زړه جهاد ته ادامه ورکړي .

د وطن دېیا ودالولو په کارکې هم د قوماندانانو مشوره موږ ضروري ګڼله تر څو هغوی را وښيي چه په سیمه کې کوم کار وشي چې هغه جهاد ته مفید وي . مثلاً اکثراً زموږ د ... نونو له جوړلو سره علاقه وه چې په دې کار د مجاهدینو اکمالات اسانه شي .

د رفاه سره د مجاهدینو حکومت او یا د مجاهدینو اتحاد کومه مرسته و نه کړه بلکې دا اداره تولنه په بهرنیو مرستو چلیدله . که څه هم هره خارجي مؤسسه خپلې مرستي په خپلو شرایطو چاته ورکوي ، خو موږ کوشش کاوه چې دغه مرستي د جهاد په ګټه استعمال کړو . ډیرې مرستې وي چې موږ هغه د جهاد په ګټه و نه بللې نو ځکه مو وانه خیستې .

زه د ټولو هغو انفرادي کسانو ، خیریه ټولنو او نړیوالو موسسو خصوصاً UNOCA او د پاکستان له حکومت څخه منبه کوم چې د رفاه دادارې په تقویه کې یې زما سره مرسته کړې ده . د رفاه دا کوښښ وچې ټول خارجي خیریه موسسات خپل

بشري مرستي افغانستان ته د رفاه له لاري واستوي او يا حد اقل خپل پروګرامونه له رفاه سره منسجم کړي .

څرنګه چې د رفاه اداره د دول جهاد په سطح او د هغه په خدمت کې يوه اداره وه نوځکه د هر تنظيم د مجاهدينو او د هيواد له ټولو سيمو سره بې له کوم تبعيض څخه برابره معامله کيده . د رفاه مامورين هم صرف د لياقت پر بنياد مقرريدل .

دغه سبب وو چې د ټولو تنظيمونو کسانو يکې کار کاوه او دې اداري قطعاً تنظيمي بڼه نه درلوده . په افغانستان کې د ننه د رفاه په هر دفتر کې کوښښ شوی و چې حد اقل يو انجنير ، يو د زراعت متخصص ( پوه ) او يو د تعليم او تربيې مسلکې کس مقرر شي . چې په دې دول رفاه په لږ وخت کې يو زيات شمير فني تعليميافته کسان جذب کړل .

د رفاه اداري خپلو مامورينو ته حد اقل يونيم زر ( ۱۵۰۰ ) کلداري او حد اعظمي « ۲۰۰۰ » دولس زره کلداري معاش ور کاوه . کومو مامورينو چه په افغانستان کې دننه کار کاوه د هغوی معاش د هغو مامورينو د معاش په نسبت چه په پاکستان کې کار کاوه ۵۰ فيصده اضافه و چې د معاش دغه امتياز مامورين دې ته تشويق کړل چې ټول په افغانستان کې د ننه کار و کړي او د تاريخ په ډيرو سختو شرايطو کې خپل وران وطن بيرته آباد کړي . د تحصيل درجه

د کار سابقه ، د هجرت موده ، په جهاد کې سهم او قرباني هغه شاخصونه وو چې موږ د هغوی په رڼا کې د مامورینو موقفونه او معاشات تاکل او دغه ارزیابي به دیوې خاصې فورمې پواسطه چې د مامورینو له خوا ډکیده سرته رسیدله . په مامورینو باندې اعتماد ، هغوی ته د ابتکار موقع او صلاحیت ورکول او له هغوی سره په ګډه توګه د هغوی ستونزې او مشکلات حلول زموږ د کار بنیاد او بنسټ تشکیلاوه . د دې لپاره چې په کار ګې کاریګر ، مخلص او مبتکر سړي اداري ته معلوم شي او هغه تشویق شي او څوک چې په کار کې لږ سست وي هغه هم خپل کار ته متوجه شي نو په دې لحاظ بررسي او تفتیش زموږ د اداري یو تکمیلي اړخ تشکیلاوه د دغو اصولو په برکت د رفاه مامورینو هریوه په خپل ځای کې ځان د پوره اختیار خاوند ګڼله او د خپلې وظیفې له اجرا سره یې پوره علاقه وه .

د رفاه اداري ته زما د کار تر پایه پورې مبلغ ۱۴۴۱۵۰۰ کلداري عاید د ملګرو ملتو موسسي ( *UNOCA* ) لخوا د مرستې په ډول راغلي و او ټول مصرف شوي و . د امریکا *AID* هم د دفتر او د هغه د اوازمو مرسته کړېده .

زه د ټولو هغو کسانو او موسساتو مننه کوم چې د رفا سره یې مرسته کړېده .

Ketabton.com

دا اداره د ۱۹۸۹ کال د می په ۲۳ نیټه د خاصو مراسمو په ترځ کې د افغانستان د بیا ودانولو وزیر ښاغلي استاد برهان الدین رباني ته د خپلې ټولې ( منقولې او غیر منقولې ) دارایی او پرسونل سره ور تسلیم شوه .

په اخر کښې بـاید ووایم چې دا رساله باید پـر خپـل وخت چاپ شوې وای خو دځینو معاذیرو له کبله یې اوس چاپوو چې حداقل له ورکیدو څخه خو وژغورل شي . په درناوي

غلام فاروق اعظم
د رها اداري عمومي آمر
پېښور ۱۳۷۰ هـ . ش



Ketabton.com

# اهداف

د افغانستان د بیا ودا نولو اداره (رفاه) یوه مستقله ، غیر سیا سي غیر نظامي او غیر حزبي اداره ده چي د افغا نا نو سره یوائحی د هغوی دبشري ستونزو په حل کي دخپلو امکانا تو په چو کاټ کي مر سته کوي . دا اداره د افغانستان دمجاهدینو د اسلامي اتحاد سره په تفا هم او همکارۍ کارو نه سر ته رسوي .

ددې مستقلي غیرسیاسي اوغیرنظامي اداري هدفونه په لاندې ډول دي :

۱ : د افغانستان دننه ته د تو لو بهرنیو بشري مر ستو انسجام سم او سالم انتقال .

۲ : د هیواد په داخل کي دیرار ځلکو ته دعا جلو بشری مرستورسول.

۳ : دجنګ ځپلو پر ګنو سره مرسته .

۴ : په افغانستان کي دننه او سیدو نکو ته د روغتیا مرسته رسول .

۵ : ا فغاني ما شو مانو ته د زده کړې زمینه او وسایل برا برول .

۶ : افغاني بزګرانو او مالدارا نو ته د کرنې او مالدارۍ و سایل او امکانات برا برول .

۷ : د تخریب شوی آبیاری سیستم او شبکو بیا ابا دول .

۸ : دپلونو او فر عی سړکونو بیا تر میم .

۹ : د کو رنیو صنایعو تقو یه کول .

۱۰ : په لومړۍ مر حله کي دهیواد په دننه کي د داخلي مها جرو اسکان او په دو همه مر حله کي د افغانستان دقضیي دعاد لانه حل پهصو رت د هغومهاجرینو بیا میشته کول کوم چي اوس دهیوادځخه دباندي ژوندکوي .

# د رفاه د کار پروگرام

رفاه له یوی خوا یوه نوی اداره وه چی محدود عواید او مالی منابع یی درلودل او له بلی خوا یی د هیواد د بیا آبادولو په کار کی لازم او کافی فنی پرسونل نه درلود . دریم دا چی دا کار دومره پراخ او وسیع و چی په یو وار او لروخت کی دا ټول یو د م نشوای تر سره کیدا ی . نو ځکه مو خپل کار ته تدریجی او مرحله وار پروګرام جوړ کړ . موږ افغانستا ن پر درو برخو وویشه .

۱ ـ هغه ولایات چی د پاکستان او ایران سره سرحد لری

۲ ـ مرکزی افغانستان

۳ ـ د هیواد شمالی صفحات

هغه ولایات چی د پاکستان اوایران سره سرحد لری هغوی د پروګرام په لومړی مرحله کی شامل شول . چی د رفاه اداره به ددی ولایاتو په مختلفو ولسوالیو کی خپل دفترونه پرانیزی . له یوی خوا دا ولایات پاکستان او ایران ته نژدی دی چی بین‌المللی مرستی به لوژستیکی لحاظ اسانه ور ته رسیدلی شی ، او له بلی خوا ددی ولایاتو اکثریت خلک مهاجر شویدی چی بیرته‌اسکان‌او

د کلیو او کروندو ابادي ته حق اولیت لري او هم دا چي تر څو سرحدي ولایات موږ د خپل پروګرام لاندې راوستلي نه وي نو دننه مرکزي او شمالي ولایاتو ته مرسته رسول عملي نده. دا څکه په لار کي به ئي د سرحدي ولایاتو خلک د انتقال مزاحم کیږي چي مرسته تر موږ تیروي او نورو ته ئي ورئ پدا سې حال کي چي موږ هم عین احتیاج لرو.

بالاخره موږ هم نه کافي پرسونل درلود او نه تجربه نو لازمه وه د نژدي سرحدي ولایاتو څخه موکار پیل کړی وای او کرار کرار وراندي تلای چي دفني کدر، تجربي او مالي امداد په پیداکیدو سره کرار کرار د فعالیت ساحه پراخیده او مرکزي افغانستان او بیا شمالي صفحاتو ته غځیده.

د هر سرحدي ولایت مرکزي دفتر او یا د ولسوالیو دفترونه د مرکزي (دوهمي مرحلي) د ولایاتو لپاره د اکمال د دفاترو حیثیت درلود. مثلاً موږ په پکتیکا کي د رفاه دفترونه درلودل چي مرکز لي خیر کوټ و. خیر کوټ د پکتیا اوغزني لپاره هم زموږ د امداد منطقوي مرکز و. چي ددې دوو ولایاتو د اکمال لپاره اداره او ګدامونه هلته موجود او فعالیت لي کاوه. ده وخت وای نو د غزني څخه به نور مرکزي افغانستان ته تلای او هلته به مو خپل دفترونه فعالولای او د خلکو د پاره به مو

خدمت کولای مرکزي افغانستان به بيا په خپل وار د شمالي
صفحاتو لپاره اکمالاتي مرکز وای . پدې دول به په هره سيمه
کې چې موږ کار پيل کړ دهغه څخه دمخه سيمه چې به پهلار کې
پرته وه ، لمړی د مرستې په پروګرام کې شامیلیده ترڅو پهلارکې
د پرتو سيمو همکاري راسره وه او نوي سيمې ته به موسالمه رسيدګي
کولې شوه . پدې دول زمونږ کارديو څنځير په شکل وو چې ورو
ورو خپريده اوټول افغانستان ئې په برکې نيوه . په پروګرام کې وه
چې په يو کال کې به په ټول افغانستان کې درفاه دفترونه خلاصيږي.




د افغانستان نقشه

Ketabton.com

په ولایاتو او ولسوالیو کې د رفاه د اداری دپرانستلو او کار طریقه دا وه چې لمړی به مونږ د هر ولایت د قوماندانانو ولایتی شورای سره مشوره کوله . که به ولایتی شورای په هغه ولایت کې نه وه نو د هغه ولایت د مرکز د قوماندانو سره به مو جلا جلا او بیا یو ځای مجلس کاوه خپل پروګرام به مو ور ته تشریح کاوه دوی ته به مو د هغه ګټې او ضرورت وایه او د هغوی همکاری به مو غوښتله ، که به هغوی پوښتنې درلودې مونږ به ځواب ور ته وایه او بالاخره چې به ئې قناعت و کړ نو بیا به مونږ ورته ویل چې څنګه د رفاه دفتر ستاسو په سیمه کې فعال کیدای شي ؟ هغوی ته به مو غوږ نیوه چې هغوی را ته لاری وښیې ، هغوی به د دوی په سیمه کې زمونږ ددفتر دفعالیدو طریقه او لاری چاری هم راوښودلې د هغه دامنیت ذمه واری به ئې‌هم په‌غاړه واخیستله د دفتر سره به‌ئې د همکاری وعده هم وکړه .

دغه ډول طریقه مونږ په ولسوالیو کې‌هم د رفاه د دفتر د پرانستلو لپاره استعمالوله ، د یوی ولسوالی د ټولو تنظیمونو د قوماندانانو سره به مو مشوره کوله ، د هغوی یوه شورای مو جوړوله او دی شورای به زمونږ د دفتر سره همکاری کوله او د هغوپه مشوره به په نوموړی ولسوالی کی‌کار سرته‌رسیده چې پدی ډول مونږ په نوموړی سیمه کې د قوماندانانو د اتفاق باعث هم وو ،اوداسې یوه سالمه فضا به مو مینځ ته راوړه چې د بیرته ودانولو ( اعمار مجدد ) کار به په امن او تفاهم سرته ورسید

زمونږ اصول داوه چې په هر ولایت کې موږ دهماغه ولایت فني کسان پخپل دفتر کې مقررول صرف ولایتي لوی آمر به د هماغه ولایت څخه نه وو ، بلکه د یو همجوار ولایت به وو . دغه راز دیوی ولسوالۍ آمر به دهغې ولسوالۍ دخلکو څخه نه وو بلکه د نوموړی ولایت د یوی بلې ولسوالۍ څخه به وو خو متباقي ټول مامورین به د هماغه ولایت او د ولسوالیو خلک وه تر څو هر چا له یوی خوا خپلې سیمې ته خدمت کړی وی او له بلې خوا د جنګ شرایط دی د یو ولایت خلک نشي کولی په آزادانه توګه په بل ولایت کې د مامور په صفت کار وکړی او هم د هر ولایت اوولسوالۍ خلک د خپل ولایت او ولسوالۍ د خلکو په ژبه ، کاچر ، عادت رواج او مشکل پوهیږی او تر نورو کسانو موثر کار کولای شی خو آمرین مو څکه د هغې سمیې خلک نه مقررول چې پخپله سیمه کې تنظیمي او قومي کشمکش دده پر کار بد اثر و نکړی او خلک تهمت پرونه لګوی چې دی دا پروګرام د خپل قوم ، کلي اویا تنظیم په ګټه چلوی بلکه یو بیګانه سړی وی چې ټولو ته په یو نظر ګوری خو دو مره بیګانه هم نه چې په ژبه او رسم او رواج ئې هم پوه نه وی مثلاً مونږ په کنړ ولایت کې انجنیر ـ محمدجان درفاه ددفتر دآمر په حیث مقرر کړی وه چې دکنړ دهمجوار ولایت لغمان څخه وو چې دیر کلونه ئې په کنړ کې کار او ماموریت کړی وو په هغه ولایت کې دیر بلد و و د غه راز انجنیر محمد

حسن د پکتیکا آمر د پکتیا ولایت اوسیدو نکی دا رنگه د غزنی ولایت آمر بناغلی عبدالجبار د پکتیا ولایت اوسیدونکی د زابل د ولایت عمومی آمر بناغلی انجنیر محمد داود د هلمند ولایت د کندهار ولایت عمومی آمر بناغلی عبدالباری هم د هلمند ولایت اوسیدونکی و و . همدا طریقه په ولسوالیو کی هم معموله وه دیوه ولایت ولایتي شورای یا دیوې ولسوالۍ، دولسوالۍ شورای زمونږ ددفاترو او مامورینو امنیت تضمینا وه او د هغوی د کارلپاره بی زمینه مساعدوله . دوی زمونږ د فترله تعمیر راکاوه او هر ځای زمونږ د مامورینو سره د کار په دوران کی د وسایلو د برابرولو اوتهیه کولو مرسته کوله . حقیقت دادی چی دهری سیمی قوماندانانو زمونږ د مامورینو سره لازمه همکا ري کړیده او ما د خپل ولس پر سیاسی درک او بصیرت او د دوی داداری اوتفا هم پر قدرت نور هم یقین پیداکړ . او د رفا د فترونو ته هم هدایت ورکړ شو ی و چی هیڅ کارد قوماندانانو او د سیمی دخلکودمشوری پر ته ونکړ ي . داځکه چی دا پروگرام د دوی دخدمت لپاره و او بس .

. د پروگرام له مخی په هره ولسوالۍ کی د رفاه د دفتر آمر ته یو موټر او مامورینو ته موټر سائیکلونه په نظر کی و ځو په ټوله ولسوالۍ کی وگرځی ، سروی وکړ ی د خلکومشکل له نژدې وگوري او هغوی ته عملاً رسیدگی وکړ ی . د رفاه ولایتي آمرانو

موټران درلو دل چې په مربوطه ولایت کې دټولو ولسوالیو د
د فترونو رسیدګي وکړي .

درفاه پروګرام صرف اوصرف د افغانستان د داخل لپاره و ددي
لپاره چې له یوی خوا جهادتقویه شي اوله بلې خوا مو خپل مظلوم
ملت ته خدمت کړی وي نو درفاه مرستې ،و دخیر په یوه تهداب
او پروګرام پیل کړی . هغه داچې رفاه دځان سره تعهد وکړ چې تر
څودا اداره باقي وی او انشا الله راتلونکي اسلامي حکومت به
هم زموږ دمقدس جهاد دشهیدانو او لادو ته،دجهاد معیوبینو ، د
جهاد د سیاسي بندیانو کورنیو او جوماتونو امامانو ته د خوراکی
موادو مفت امداد ورکوي . موږ دا فیصله کړ یوه چې د شهیدانو
کورنیو ته به ترهغو دخوراکي موادو امداد په هره میاشت کی
ورکول کیږی ترڅو دشهیدانو دکورني آخرین کوچنی ۱۸ کلن
کیږی؛دمعیوب دکورنی سره به ترهغو دامرسته ادامه لري ترڅو
معیوب ژوندی‌وي ؛ دبندی دفامیل سره به ترهغو دا کمک دوام
لري ترڅو یا بندی راخلاصیږی اویائی مرګ تثبیت کیږی؛د مرګ
دیقین په صورت کې دده د کورنی سره د شهید د کورنۍ په شان
معامله کیږی چې‌دغه کارونه درفاه لخوا سرته رسیدلی هم‌دي .

زمونږ دهیواد خلک په کلیو کې یخوا هم خوار او غریب
و . تیر لس کاله چې د باران په‌شان بمونه پر ی و ریدلی د ي ،
کښت او کرونده ئې‌خرابه او اقتصاد بالکل فلج دی‌خلک تر پخوا

ډیر خوار شویدی دخوارو خلکو ملاامام هم خوارا و غریب وي ددی لپاره چی دکلیوپه سطح تعلیم تقویه او دخلکو لپاره ددعوت او ارشاد دیوه بله وی نو فیصله موو کړه چی دکلیو امامانو ته به هم درفاه له امداد څخه وړیا مرسته ورکول کیږی ترڅو دا طبقه نور د ولس پر اوږو بار نه وی بلکه نسبتاً ارام او د خلکو دخدمت اوهدایت مصدرشي . درفاه معیاری اوسط کورنی ۸ اته تنه غړی درلودل .

درفاه پالیسی داوه چی ددی څلورو طبقوپرته ( شهید ، معیوب، بندی او ملا امام) نورو ټولو خلکو د رفاه څخه د کار په مقابل کی مرسته اخیسته دکلی خلکو خپل کوزونه جوړول خواجورو لی د رفاه څخه ترلاسه کوله خپل کښت او کروندنه ئی کوله ویالی ترمیمولی خواجوره ئی رفاه ورکوله او یایی دخپلی سیمی سړکونه او مدرسی ترمیمولی او یا یې بل عمرا نی کارکاوه مګرآجوره ئی دکارپه مقابل کی د رفاه اداری ورکوله . پدی ډول له یو ی خوا د کلیو خلکو ته کار پیدا شو او له بلی خوا خلک مفت خو ر تر بیه نه شوه دکار په مقابل کی دخوراکی موادو ورکول یوه بله ګټه هم درلوده هغه داچی په سیمه کی غذائی مواد ډیر شوه او د موجوده غذائي موادو نرخونه ټیټ شوه چی پدی ډول دهغو کسانو هم په ګټه وه چی زمونږ تر پروګرام لاندی ئی کار نه کاوه داځکه چی دغذائي موادو

قیمتونه راټیټ شوه او دټولې‌سیمې دخلکو په ګټه وو . مګرکه چیري مونږ نقده پیسه ورکولای نو دی کار به نه یوا ز ی په سیمه کی خوراکي مواد نه ډیرولای بلکه دموجوده خوراکي موادو قیمتونه به هم لوړبدلای‌او پدی ډول به دنرخونو دلوړوالي بد اثر به د- سیمې ټول خلک متضرر کړی وای .

د رفاه اداري د افغان مهاجرینو دبیا میشته کو لو لپاره څه پروګرامونه جوړ کړی وو چې‌البته طرح اونقشه ئې په ا بتدائی مر حله‌کې وه . یوکمیسیون مؤظف شوی و چې پردی موضوع غور وکړی چې کله افغان مهاجرین بیرته خپلو کورو ته څې څرنګه به هلته امکا ن کیږ ی او ددي نقل او انتقال او هلته ځا ی په ځای کیدل به په څه ډول وي . د دوی خوراک ، صحت ، تعلیم دکورونو ابادیدل، زراعت اوکسب و کار به ئې څه‌مشکل ولری اتفاقي نظر دا وو چې د افغانستان‌په هره ولسوالۍ کی باید د رفاه اداری داسي تقو یه شي چې دمهاجرینو داستقبال او دهغوی د - ځای پرځای کیدو سر پرستۍ‌د ذیعلاقه ادارو سره مرسته و کړی .

د مهاجرینو د دوباره اسکان او د افغانستان د بیا ودانو- لو وزارت چې وروسته د رفاه په اداره تبدیل شو لاندی اداری درلودی :

۱ - احصائیه او پلان آمریت .

۲ - د ښوونې او روزنې آمریت .

۳ ـ د عامې روغتیا آمریت .

٤ ـ ساختمان ( انجینری ـ زراعت ) آمریت .

٥ ـ د ترانسپورت آمریت

٦ ـ د مهاجرینو د انتقال آمریت

٧ ـ امکان آمریت

٨ ـ د مصیبت زدګانود وارسي آمریت

٩ ـ اداری آمریت

١٠ ـ د تهیه آمریت

١١ ـ د توزیع آمریت

١٢ ـ د تفتیش آمریت

د دوباره اسکان او د افغانستان د بیا ودانولو کار په دوو لاندې مرحلو کې صورت نیسي :

**الف په داخل کې** ـ د دې لپاره چې په پاکستان او ایران کې افغان مهاجرین په داده زړه سره په خپلو وطنو کې بیرته اسکان او په اطمینان سره ژوند ته ادامه ورکړي نو دا په کار ده چې لومړی دافغانستان په داخل کې د دوی د اوسیدنو په سیمو کې مطمئن شرایط برابر شي او بیا دا مهاجر په یو مناسب او معقول تدریجي پروګرام سره ور انتقال شي .

هغه اقدامات چې د مهاجرینو د انتقال د تیاری په منظور په دننه افغانستان کې لازم دي په لاندې ډول دي .

**۱ - د مینونو پاکول**: پر ټول افغانستان باندی روسانو ضد پر سرنل او انواع دبمانو د باران په شان او رولی دی دا په ډیره سخته او حتی نا ممکنه وی چی بیله دی چی کلی او کروندی د دا ډول خطر ناک او مهلک بمانو څخه پاک شی مهاجر ورته انتقال شی. د دی لپاره چی په افغانستان کی دبمانو د ټولولو او دهغو څخه دسیمو دپاکولو کار په یو منظم او موثر ډول سرته ورسیږی په نظر کی دی چی یو کورس زمونږ له خوا دایرشی چی یو تعداد کسان تربیه کړی. دا کسان به نه یواځی په عملی ساحه کی موثروی بلکه د نورو داستاذی او رهنمائی وظیفه به هم اجرا کوی.

همدا راز د ماینونو د خنثی کولو، را ایستلو او د سیمو د پاکولو د کار د طریقو فلمونه او پسترونه به ښیئی. یوه بیله اداره زمونږ د وزارت په چوکات کی د دغه کار لپاره مؤظف ده چی د دغه کارونه تعقیب او د ماینونو د خنثی کولو او را ایستلو وسایل تهیه او د یو معقول پروګرام مطابق توزیع یی کړی.

**۲ - د آبیاری سیستم**: په افغانستان کی د آبیاری سیستمونه اکثراً د روس د ظالمانه بمباریو په نتیجه کی سخت زیانمن شویدی. همدا راز په افغانستان کی د یو مؤثر حکومت د نه موجودیت په وجه د آبیاری سستمونه خراب، د لای او ختو ډک او د طبیعی زیان هم ښکار شویدی. ترڅو په افغانستان کی د آبیاری سستمونه بیرته نه وی فعال شوی او د فشار

دغه عامل نه وي له منځه تللی د مهاجرینو بیرته ورتګ او هلته ژوند معمول ته راګرځیدل آسان ندی . زموږ د آبیاری د سستمونو د بیرته فعالیدو لپاره مشخص پلانونه په نظر کې وه .

۳-دمځکو تسطیح: دروسانو د شدیدی او مدحشی بمباری او په زراعتی مځکو او باغونو کې د روسی ټانکو غوبل دا مځکې ناهموار او په لوړوو او ژورو بدل کړیدی . یو وسیع پروګرام په نظر کې وو چې دانتیجه رفع شوای وای .

۴ دکورونو آبادول، په افغانستان کې دخلکو کورونه اکثراً یا دبمباری او قسماً د عدم مراقبت په وجه خراب شویدی تر څو دا کورونه بیرته آباد شوی نه وی نو مهاجر ورتلای نشی او که ورسی هم هلته به ترڅو چه کورونه ئی آبادیږی په خپل وطن کې مهاجر وی .

موږ د ددی کورونو او کلو دبیا جوړاوولو لپاره منصوبی په نظر کې درلودی .

۵ - د سرکانو وضع : په افغانستان کې اوس د سړکانو وضع خرابه ده اکثره سړکان روسی ټانکونو خراب کړی او د نظامی عملیاتو په نتیجه کې داستفادی څخه وتلي دی . همدا راز پلونه او پلچکان هم د دی اوږده جنګ په جریان کې سخت زیانمن شویدی . دسړکانو او پلونو دجوړولو او بیرته فعالولو لپاره یو جامع پلان په نظر کې وو .

۶ - دافغان ماشومانو او ځوانانو دتعلیم تربیې لپاره‌به‌هم یو لازم پلان جوړ شوی ووداځکه په افغانستان کی تعلیم وتربیه با بالکل فلج ا و یا مطلو به نه ده . همد ا راز صحی شرایط سخت خراب دی چی جدی توجه غواړی .

کله چی پورتنی شرایط مساعد شول نو لومړ ی به داخلی مها جر تشو یق شی چی خپلو کو ر و ته و لا ړ شی بیا به هغه مهاجرین چی په پاکستا ن او ایران کی پراته د ی تر یو منظم پلان لاندی انتقال کیږی .

ب - د مها جر ینو د ا نتقا ل عملیه په لا ند ی ډ و ل پیش بینی شوی وه :

۱- ټول‌افغان مهاجرین چی اضافه تر پینځه میلیونه دي یو دم او دفعتاً نشي انتقال کیدلای. دا ځکه لومړی‌دومره وسیع امکانات زموږ سره نشته . دوهم ددي ټولو لپاره هلته د اوسیدلو ځایونه او د ژوند لازم وسایل نشي تهیه کیدلای او دریم دا جدی ویره ده چی هلته به دا کسان د قحطی او ساری امراضو سره مخامخ شي . نو په کار دا ده چی دا پروګرام تدریجی او عملي جنبه ولری

۲- په اکثرو هغو مناطقو کی چی اوس زموږ د کار په پلان کی شامل دی اوس محلی شوراګانی شته او مربوطی سیمی ددغه شوری‌اګانوپه ذریعه‌اداره کیږی. کوموځایوکی‌چی‌داسی‌شوری‌اګانی نشته په هغه ځایو کی به دا ډول شوری ګانی جوړیږی کوم

پروګرام‌ړله چې مونږ غواړو په یوه سیمه کې تر سره کړو ددې محلي شوراګانو او ادارو په مرسته به تر سره کیږي .

محلي شورې عبارت د یوې ولسوالۍ یا علاقداري د مجاهدینو د قومالدانانو ، علماؤ ، مشایخو او خبیر و خلکو څخه ده چې د سیمې ټولې مربوطې مسئلې د دغه شورا له لارې حل کوي .

په مرستو کې نقده پیسه ، تعمیرا تي‌او زراعتي مواد ، وسایل خوراک مشوره ، . . . . او نور شامل دي .

۳ ـ د مهاجرینو د انتقال لپاره لومړی استقبالیه کمپونه په مربوطه سیموکې جوړ او مهاجرین هلته ځای پر ځای کیږي .

د څلورو میاشتو په موده کې به دا مهاجرین د دې استقبالیه کمپونو څخه خپلو اصلي کورونو ته انتقال کیږي . په خپلو کورنو کې د میشته کید و په وخت کې به د یو کال خوراکه د کورنۍ د غړو په تناسب ور کول کیږي تر څود ځمکې حاصلات ئې ورسیږي .

څرنګه چې شاړې ځمکې تر دریو کالو پورې حاصل نه ورکوي لازمه ده د حا صلا ت په تناسب د وهم ا و د ریم کلو نه هم د لیم او څلورمې حصې د کال خوراک مرسته د دغو کورنیو سره وشي .

٤ ـ د مهاجرینو د انتقال پروګرام په ټول افغانستان کې زمونږ د امکاناتو په اساس په درې مرحلو کې تر سره کیږ ی لو مړی

هغه سیمې چه پاکستان او ایران ته نژدې دي یا مرکزي سیمې او وروسته په شمالي سیمو کې دا پروګرام عملي او په دې دول تول داخلي او خارجي مهاجرین په امن او اطمنان په خپلو سیمو او کورو کې ځای پرځای کیږي . په آزاد او اسلامي افغانستان کې د دوباره اسکان او دافغانستان د بیا ودانولو اداره درې کاله وروسته کله چې خپل پلانونه او پروګرامونه ئې په برې سره سر ته ورسول منحل او وظایف ئې په بیلو بیلو مربوطو وزارتو نو پورې تړل کیږي.



Ketabton.com

# تشکیلات او پرسونل

## دقیادي شورئ د ۴/۹/۱۹۸۸ دتوصیې مطابق

او ددې لپاره چې دا نوې مستقله اداره د ټول جهاد څخه نمایندګي وکړي، جهادي تنظیمونه د هغه په کار مطمئن وي او د ټول مجاهد ولس خدمت ته بیله کوم تبعیض څخه ورسیږي ما د خپل وزارت د شورای غړي د رفاه په اداره کې د خپلې شورای د غړو په حیث و ساتل چې نومونه ئې په لاندې ډول دي.

١ - ښاغلی مولوي سیف الرحمن دافغانستان د نجات دملي جبهې څخه

٢ - ښاغلی عبدالرزاق لالا د افغانستان د حرکت انقلاب اسلامي څخه

٣ - ښاغلی حاجي غلام دستګیر د افغانستان د حزب اسلامي (حکمتیار صاحب) څخه

۴ - ښاغلی حاجي فقیر محمد بایزی دافغانستان دملي اسلامي محاذ څخه

۵ - ښاغلی مولوي محبوب الوي د افغانستان د اسلامي حزب (خالص صاحب) څخه

٦ - ښاغلی قاضي محمد حکیم د افغانستان د اسلامي جمعیت څخه

٧ - ښاغلی حاجي محمد دوران د افغانستان د اسلامي اتحاد څخه

٨ - ښاغلی صوفي قربان محمد د افغانستان د اسلامي جمعیت څخه

Ketabton.com

دی اتو کسانو په ډیر اخلاص رفا سره همکاري وکړه د کار طریقه دا وه چې د رفاه د اداري د عمده اجرأتو هفته وار راپور دغې شورای ته وړاندی کیده او تر بحث وروسته به په هغه باندی تصمیم نیول کیده .

رفاه په پیښور او کویټه کی منظم او مجهز دفتر ونه لرل او د افغانستان هغو ولایاتو ته ئي رسیدگی کوله چې د پیښور او کویټی څخه اکمال کیدی شول . زموږ پروګرامونه د پیښور له لارې په کنړ او پکتیکا کی ، د کویټی له لارې په زابل کندهار او هلمند کی په لاندی ډول تر اجرأ لاندی وه .

Ketabton.com

# الف - پښتور

## د رفاه مرکزی دفتر :

رفاه د پښتو ر په یونیورسټی تا و ن کی یو ښکلی ، مجهز او منظم دفتر درلود چی د لیدلو وړ وو د افغانستان تو لو هغو ولایاتو ته چی د صوبه سرحد له خوا اکمال کیدای شو ه ددغه دفتر له خوا رسیدګي کیدای شوه .

پدی دفتر کی لاندی کسانو کار کاوه .

١ - جناب دوکتور فاروق اعظم د رفاه د اداري عمو مي آمر

٢ - ښاغلی فقیر محمد بایزي ( حقوق پوه ) ادا ری آ مر

٣ - ښاغلی عبدالاحد (زراعت) فني مامور

| | |
|---|---|
| ٤ - ښاغلی انجنیر عبدالرحمن | فني مامور |
| ٥ - ښاغلی انجنیر عبدالرشید | فني مامور |
| ٦ - ښاغلی اختر محمد | اداري مامور |
| ٧ - ښاغلی صفي الله | محاسب مامور |
| ٨ - ښاغلی سمیع الدین | پیاده |
| ٩ - ښاغلی با با | پیاده |
| ١٠ - ښاغلی محمد طاهر | پهره دار |
| ١١ - ښاغلی محمد ظاهر | دریور |

د مامورینو د رتبی او معاش تثبیت د یو ی معینی لایحی او معیار په اساس شو ی وو چی ددی راپور مل د ی . د اداری عمومی آمر ( جناب دوکتور فاروق اعظم ) د رفاه سره د مرستی په منظور معاش نه اخیست د رفاه د شورا ئی هر یو غړ ی د میاشتی څلور زره کلداری معاش درلود د پیښو ر مرکزي د فتر د افغانستان په داخل کی په بیلو ولایاتو کی لاندی پروگرامونه درلودل .

## ۱ - د کنړونو ولایت :

د کنړونو ولایت په مرکز اسعد ا با د کی ر فا ه یو منظم دفتر درلود چی لاندینی پرسونل پکی کار کاوه :

۱ - انجنیر محمد جان د کنړونو و لا یت د ر فا ه عمو می آمر

| | |
|---|---|
| ۲ - انجنیر غلام رحمن | فنی مامور |
| ۳ - انجنیر حسین احمد | فنی مامور |
| ۴ - ښاغلی رحمن گل | زراعت او مالداري مامور |
| ۵ - ښاغلی برکت الله | زراعت او مالداري مامور |
| ۶ - ښاغلی مرسلین | زراعت او مالداري مامور |
| ۷ - ښاغلی سید غریب | تعلیم و تربیه // |
| ۸ - ښاغلی گلا خان | اداری مامو ر |
| ۹ - ښاغلی محمد وزیر | اداری ما مو ر |
| ۱۰ - ښاغلی امان الله | دریو ر |

د کنړونو د ولایت د ټولو و لسوا لیو د سروی کا ر د
پروګرام مطابق روان و . د کلیو د رنګ شویو کوروونو سروی
د ابیاری د نظام د بیا ترمیم ، د زراعت دوباره ژوندی کولو
د سړکونو د جوړولو ، د مدا رسو د فعالولو ، په هره
ولسوالۍ کې د رفاه د دفترونو او ګدامونو د جوړولو او
دغه راز په علاقه داریو کې هم د صحي مرکزونو لپاره مطالعات
سرته رسیدلي وو . د کنړ ، ننګرهار او لغمان ولایت ته لس زره
ټنه غنم منظور سوی وه چه له هغه څخه ۳۱ متهرک ټنه غنم د
کنړونو ولا یت ته رسیدلي وه او ۲۷ ټنه نور هم په هغې پسې
د کنړ و لا یت ته لیږ دول شوي وو . د وته پور په لوی کانال
باندی کار، کا رپه مقابل کي دغذا تر پروګرام لاندې سرته رسیدلي
و . دانجنیری یوهیئت د ناوه پا س او اسعد آباد تر مینځ سړک
سروی اوترمیم کړدلته هم د کار په مقابل کي غذائي مواد ورکړ
شول دکنړدپاره یو . ۲ بستره ایز روغتون منظوراو تهیه شو چی تر
نصب کیدو وروسته ئي په فعالیت پیل کاوه. د کنړ ولایت په هره
ولسوالۍ کې یو مجهز کلنیک فعال کیدی .

په کنړ کې د ځنګلو نو د بیا ودانولو او سا تلو د پاره د
رفاه لخوا ځانګړی توجه شویده او په هغه ولایت کې د مالدارۍ
د تقویې او تداوی په خا طر څو تنه و تر نر او د حیوا نا تو د
ساتنې ماهران مقرر شوي وو او د یوی ا بتدا ئي سروی وروسته
یو حیوانی کلنیک هم هلته پر ا نستل کیدی د پروګرام له مخې د



Ketabton.com

حیواناتو اصلاح شوی نسلو نه لکه پسو نه او غواوی سیمی ته استول کیدی او د مصنوعی القاح پرو گرام هم عملی کیدی‌په کنړ کی نوی سرکونه جو ړ ا و د زړو سړکونو تر میم پروگرام هم تر لاس لاندی وو .

د رفاه د پروگرام له مخی د یو طرح شوی پلان په اساس د ۱۳٦۸ کال تر نیمائی‌پوری دکنړ په ټولو ولسوالیو کی اوهم په علاقه داریو کی دفترونه پرانستل کیدل او د سیمی خلکو ته ئی د دوی په مشوره خپل خدمات وړاندی کول .

په کنړ کی هم لکه د نورو وُلایاتو په شان زەوړ کا ر د خیر په یوه پروگرام پیل شو ی وو چی د شهید ا نو معیو بینو د بندیانو د کورنیو او امامانو سره به وړیا مرسته کیده .په نظر کی وو چی د کنړ ولایت نه بدخشان ته سړکونه وغزول شي .

## ۲ - پکتیکا ولایت :

د رفاه اداره د پکتیکا په مرکز خیر کوټ کی یو لوی دفتر او د غنمو او نورو امدادی موا د و د ذ خیر ی غټ گودامونه لرل . رفاه د پکتیکا په ولایت کی په لاندی د و ل د فتر و نه او پرسونل درلودل :

### الف - خیر کوت : -

د پکتیکا د ولایت لپاره د رفاه مرکزی د فتر په خیر کوټ کی وو بنه گودامونه ئی لرل او لاندینی پرسونل پکی کار کاوه .

۱ - انجنیر محمد حسن د ولایت عمومی آمر .

۲ - ښاغلی صالح محمد د (زراعت) مسؤل

۳ - ښاغلی گل بهرام د(سروی اراضی) مسؤل

٤ - ښاغلی سید غلام رسول د(انکشاف دهات) مسؤل

۵ - ښاغلی محمد عسکر د(تعلیم و تربیه) مسؤل

## ب - وازه خوا :-

د وازه خوا په ولسوالۍ کې د رفاه پر سو نل په لا ندی دول وو .

۱ - ښاغلی خانزمان آمر

۲ - ښاغلی محمد سلیمان مامور

۳ - ښاغلی عبدالمجید مامور

## ج - ښرنه :-

د ښرنې په ولسوالۍ کې د رفاه پرسونل په لا ندی دول وو .

۱ - ښاغلی گلاب خان آمر

۲ - محمد نبی مامور

۳ - میر احمد مامور

## د - ارگون :-

د ارگون په ولسوالۍ کې د رفاه پرسونل په لاندی دول و .



Ketabton.com

۱ - ښاغلی محمد اسحق آمر

۲ - ښاغلی میرزا محمد مامور

۳ - ښاغلی نور محمد مامور

## ه - کومل :

د کومل په ولسوالی کی پرسونل په لاندی ډول وو .

ښاغلی عزیز گل آمر

۲ - ښاغلی محمد سلیم مامور

۳ - ښاغلی سید امیرشاه مامور

## و - سپیره :

د سپیره په ولسوالی کی د رفاه پرسونل په لاندی ډول وو .

۱ - ښاغلی سید محبوب آمر

۲ - ښاغلی عید محمد مامور

۳ - ښاغلی محمد نادر مامور

پکتیکا ولایت ته د ..۹ مترک تنو نه زیات غنم استول شوی وو او نور ..۲۱ تنه‌هغه ولایت ته د رسیدو په حالت کی وو یو مرکزی ..۲ بستره ایز روغتون‌او په‌هره ولسوالی کی یو مرکزی صحی کلینیک په نظر کی وو. پدی و لایت کی هم لکه په نورو ځایونو کی رفاه خپل کار د جهاد د شهیدا نو د

اولاد ، د جهاد د معيوبينو ، د بنديانو د كورنيو او جوماتونو د امامانو سره په مرسته پيل كړی وو د پکتيکا د ولايت په مرکز او ولسواليو کی عمرانی کارونه اکثراً د کار د غذا په مقابل کی تر پروګرام لاندی د مربوطه محل د قوماندانانو او ولس په مشوره سرته ورسيده خيرکوټ د پکتيا او غزنی ولايا تو لپاره عجالتاً د رفاه د پروګرامونو سيمه ايز مرکز و .

## ۳ - پکتياولايت :

څرنګه چی ګرديز او خوست کی د کابل کمو نست پوځ پروت دی او په دی ولايت کی د يوی ولسوالی څخه بلی ته د رفاه د امداد کاروانونه په اطمنان نقل او انتقال نشو کولای نو ځکه ددی ولايت اکثره ولسواليو ته د پکتيکا له لاری رسيدګی کيده . همدارنګه د پکتيا ولايت په بيلو بيلو ولسواليو کی د سروی کار سرته رسيدلی و او د دی ولايت په ولسواليو کی د رفاه دفترونه پرانستل شوی وه او عملاً ئی فعاليت کاوه .

## ۴ - غزنی ولايت :

په غزنی کی د رفاه د دفترونو د پرانستلو کارسر ته رسيدلی وو د هری ولسوالی د قوماندانانو سره خبری شوی وی او د ولايت عمومی آمر (عبدالجبار) تعين شوی وو د غزنی ولايت زمونږ د عمومی پروګرام د دوهمی مرحلی هغه ولايت وو چی د

مرکزی افغانستان سره نښتی دی د دی ولایت پلان جوړ او په لاندی‌ډول هلته د رفاه پنځلس دفترونه د پرانستلو په حال کی وه

۱ - د ولایت مرکز
۲ - اندړ ولسوالی
۳ - قره باغ ولسوالی
٤ - مقر ولسوالی
۵ - ناوه ولسوالی
٦ - جغتو ولسوالی
۷ - جاغوری ولسوالی
۸ - ناور ولسوالی
۹ - مالستان ولسوالی
۱۰ - اجرستان ولسوالی
۱۱ - خواجه عمری علاقه داری
۱۲ - ده یک علاقه داری
۱۳ - زنجان علاقه داری
۱٤ - گیرو علاقه داری
۱۵ - آب بند علاقه داری
۱٦ - گیلان علاقه داری

د غزنی ولایت دری ولسوالی (جاغوری ، ناور ، مالستان) هزاره نشین دی او په نورو ولسوالیو کی هم څه څه شته د

هغوی د توماندانانو او مربوطه تنظیمونو سره خبری شوی وی هغوی هم د دی پروگرام بنهٔ هرکلی کړی و. هغوی په خپلو سیمو کی د تعلیم یافته کسانو د لست په جوړولو بوخت وو او دغزنی ولایت‌ته . . . ۳تنه غنم‌اولس‌صحی مرکزونه په نظر کی‌وه.

## ۵ - لوګر :

د لوګر ولایت د رفاه د پروګرام په دوهمه مرحله کی شامل و د پل علم ، محمد آغه او بره‌کي برک د ولسوالیو سروی تکمیل شوی وه دغه سروی په هغه ولایت کی د رفاه لخوا بناغلی آقا محمد او محمد داؤد چی دواړه د زراعت لیسانسه وه سرته رسیدلی وه او د سروی له مخی د لوګر د ولایت په ټولو ولسوالیو کی د رفاه دفترونه پرانستل کیدل .

## ۶ - بامیان او وردګ ولایتونه

ددی دوو ولایتولو دمطالعی اوپلان کار د ۱۹۸۹ م کال د جولائی تراخره پوری تکمیل کیدی‌او د رفاه دفترونه پکی پرا - نستل‌کیدل‌دواړو ولایاتوته په اکثره دغزنی له لاری رسیدګی‌کیده دا دوه ولایتونه د مرکزی افغانستان په پروګرام او مرحله کی شامل وو .

## ۷ - بدخشان ولایت :

* که څه هم بدخشان درفاه د پروګرام په لمړی مرحله کی . شامل و. خو دژمی د واورو او د لارو د بندوالی په وجه مو و

نشوکرای چې هلته دفترونه پرانیزو خود هوا د گرمیدو په وخت کې مصمم ووچې درفاه دفترونه خلاص اوپه کارئې پیل وکړی .

## ۸ - ننگرهار ولایت :

څرنگه چې د رفاه کار امن او استقرار ته ضرورت لری نو دننگرهار ولایت په مرکز (جلال آباد ) دشدیدو جنگولو په وجه په هغه ولایت کې د رفاه کار پیل نه شو په هغو ولسوالیو کی چې دجنگ دساحې څخه نسبتاً لیری وی دسروی کارسرته رسیدلی وو اوبهخیل وارپه دغو ولسوالیوکی درفاه دفترولو په کارپیل کاوه .

## ۹ - مرکزی او شمالی ولایات :

په مرکزی اوشمالی ولایاتو کی د رفاه د مرحله وار پلان مطابق درفاه دفترونه په نظر کی وه چه غو ولایاتوکی د سروی دکار دبشپړیدو وروسته دنقدی امداد له لاری چې انتقال ئی اسانه و د سیمی د عمران او بیا ودانولو کار پیل کیدی خصوصاً د کاریزونو ، ویالو اوچینو د پاکولو د سرکونو د جوړولو او د ترمیمولو کار په لمړۍ مرحله کی په په نظر کی وو .

## (ب) کویته :

د رفاه اداره دنوې کوئیتی دستلائت په تاون کی یوښکلی لوی او مجهز دفتر درلود چي د افغانستان ټولو هغو ولایاتو ته ئی رسیدگی کوله کوم چې دبلوچستان د لاری لخوا اکمال کیدای شوه دکوئیتی په مرکزی دفتر کی لاندی کسانو کار کاوه .

۱ - ښاغلی قمرشاه دکویټی دمرکزی دفتر سرپرست

۲ - ښاغلی محمد عیسیٰ دکویټی دمرکزی دفتر اداری آمر

۳ - ښاغلی عبدالرؤف دکویټی د مرکزی دفتر مامور

۴ - ښاغلی بشیر احمد دکویټی دمرکزی دفتر د ارتباط آمر

۵ - ښاغلی عبدالسلام دکویټی دمرکزی دفتر دارتباط مامور

۶ - ښاغلی قلندر دکویټی دمرکزی دفتر دامنیت آمر

۷ - ښاغلی حاجی آغا جان دکویټی د مرکزی دفتر تحویلدار

۸ - ښاغلی محمد حسن دکویټی دمرکزی دفتر دریور

۹ - ښاغلی میرحمزه دکویټی دمرکزی دفتر اشپز

۱۰ - ښاغلی بخت محمد دکویټی دمرکزی دفتر پیاده

۱۱ - ښاغلی شرف‌الدین دکویټی دمرکزی دفتر پیاده

۱۲ - ښاغلی عبدالله دکویټی دمرکزی دفتر پیره دار

۱۳ - ښاغلی حبیب الله دکویټی دمرکزی دفتر پیره دار

د کویټی مرکزی دفتر دافغانستان په ولایاتو کی لاندی څانګی اوپروګرامونه درلودل .

## ۱ - زابل ولایت :

د زابل ولایت نهه ولسوالۍ اوعلاقداری لری چی په‌لهه وارو ولسوالیو او علاقداریو کی ئی د رفاه دفترونه پرانستل شوی وو او په عملی توګه یکی کار کیده. دزابل ولایت دټولو سیمو سروی تکمیل او احصائیی ئی [illegible] ټولی شوی وی چی د



Ketabton.com

هنوی په توحید سره دمربوطه پروژو پلان هم تکمیل شوی ؤدغه ولایت ته د زرغو غنمو لږی روانه وه . دشملزو په علاقه داری کی ځلورو کتکوریو مستحقینو (یتیم ، معیوب، بندي ، امام) ته په اطمنانی ډول دنورو متباقی سیمو سره یوځای دپروګرام مطابق مواد ویشل شوی و . دعمرانی پروژو پلان هم تکمیل او ددغه ولایت ، دسرکونو دجوړولو ، کاریزونو اوویالو دابادولو، دزراعت دراژوندی کولو ، د کلیو د آبادولو . . . کارونه هم پیل شوی وو ، د زابل ولایت هری ولسوالی اوعلاقه داری کی یو مجهز صحی مرکز په نظر کی وو ، د مدارسو جوړول هم د دی اداری د پلان له مخی تر سره کیدل .

دزابل په ولایت کی د رفاه د اداری ددفترونو پرسونل د اشپز ، تحویلدار او پیره دار څخه علاوه په لاندی ډول وه :

## الف ) کلات :ـ

کلات د زابل ولایت مرکز او درفاه مرکزي اداره د دغه ولایت د پاره همد لته وه چی لاندې پرسونل ئی درلود ( پدغه پرسونل کی پیاده ، پیره دار ، اشپز او تحویلدار شامل نه وو ) :

۱ ـ ښاغلی انجنیر محمد داؤد د زابل ولایت عمومی آمر

۲ ـ ښاغلی محمدافضل د زابل ولایت مامور

۳ ـ ښاغلی سیف الله دزابل ولایت مامور

۴ ـ ښاغلی صدری دزابل ولایت مامور

۵ ـ ښاغلی عبدالصمد د زابل ولایت دریور

## ب ـ شملزی :

د شلمزو په علاقه داری کی د رفاه پرسونل په لاندی دول و .

۱ ـ ښاغلی امین‌الله د دفتر آمر

۲ ـ ښاغلی خان‌محمد د دفتر مامور

۳ ـ ښاغلی محمداسمعیل د دفتر مامور

## (ج) اتغر :

د اتغر په علاقه داری کی د رفاه مامورینو په لاندی دول کار کاوه :

۱ ـ ښاغلی خیرمحمد د دفتر آمر

۲ ـ ښاغلی عبدالجلال د دفتر مامور

۳ ـ ښاغلی محمدگل د دفتر مامور

## (د) شینکی :

د شینکی په ولسوالی کی د رفاه دفتر دغه مامورین درلودل :

۱ ـ ښاغلی عبدالخالق د دفتر آمر

۲ ـ ښاغلی عبدالواحد د دفتر مامور

۳ ـ ښاغلی سیدرحمن د دفتر مامور

## ( ه ) شاه‌جوی

د شاه جوی په ولسوالۍ کی د رفاه د دفتر پرسونل په لاندی ډول و :

۱ ـ ښاغلی نظراحمد د دفتر آمر

| | |
|---|---|
| ۲ ـ عبدالرحیم | ددفتر مأمور |
| ۳ ـ بازمحمد | د دفتر مأمور |

## (و) ارغنداب :

دارغنداب په ولسوالۍ کی درفاه مأمورین په لاندی ډول وو .

| | |
|---|---|
| ۱ ـ ښاغلی حیات الله | د دفتر آمر |
| ۲ ـ ښاغلی نجی‌الله | د دفتر مأمور |
| ۳ ـ ښاغلی حاجی عبدالکریم | د دفتر مأمور |

## (ز) دایچوپان :

د دایچوپان په ولسوالۍ کی درفاه د دفترمأمورین په لاندی ډول وو .

| | |
|---|---|
| ۱ ـ ښاغلی ذینوم | د دفتر آمر |
| ۲ ـ ښاغلی صالح محمد | د دفتر مأمور |
| ۳ ـ ښاغلی میرزامحمد | ددفتر مأمور |

## (ح) میزان :

د میزان په سیمه‌کی‌درفاه د دفترپرسونل په لاندی ډول‌و .

۱ - ښاغلی عبدالرزاق د دفتر آمر

۲ - ښاغلی عبدالغني د دفتر مامور

۳ - ښاغلی محمد صادق د دفتر مامور

## (ط) جلدک :

